داکتر مجاور احمد زیار

# د اووم پسرلي ول په درشل کې

پوره شپږ کاله مخکې همدا زړه راکښونې پسرلنې شېبې چې د بلخ سرو رېديو، د باميانو سرو باميو، د کابل، پروان او هرات سرو ارغوانو، د کندهار انارګلو او د تلسمسور ننګرهار نارنجګلو د الپ د سرو ګلابو او غاټولو د رنګ و بوي له قافلو سره اړخونه بدلول، زموږ د غورځنګ د زېږون انګازې لورالو راخپرې شوې او د تورې - سرې - سپينې بخولې ځپلې او ارمانژلي وطنوال او بيا جلا وطن يې له لسکلنو نارامو خوبونو راوبوږنول.

دا دې هم داسې ونه انګېرل شي چې ګوندې دغه پرله پسې غوړېدونکي او غځېدونکي غورځنګ کوم نوزېږی ماشوم وو چې د تيخورۍ، خاړپوسۍ او پل اخېستنې پړاوونه يې تر شا پرېښوول او متې اوس ښوونځي ته د تګ جوګه کېږي، بلکې په آره او رښتينې توګه يې د هماغه لرغوني نيمګړي او نيمژوانده ملي او انساني ارمان د بيا زېږون مانا درلوده چې تر هر څه له مخه د هماغو داوه ګبرو د ځانغوښتنو او ځانځانيو بلهاري شوی وو. تر نوښتګرو بنسټوالو، مخکښانو او ورته پرله پسې راماتېدونکو لښکريانو پورې يې د (ا. خ. د. ګ) له خوګلنه هماغه چاندي چاڼلې او مخسورې راوتې سپرغۍ دي چې تر شا يې له تورمخو ايرو سکرو پرته نور څه د سترګو په ورشو کې راتلای نه شي!

دغه غورځنګ له تېر شپږ کلنو هاندوهڅو، بريو او برياوو سره پر زباد ورسوله چې د هېواد د يو پېرييزې چپي - انقلابي مبارزې يوازېنی او رښتينی پاتوړی او استازی دی او بل هزځ ګوند وسازمان يا ډله ټپله يې بلونج (الترناتيف) او د سيالۍ جوګه کېدای نه شي. له اډانيز (تشکيلاتي) پلوه يې هم له تېرو هغو سره يو بنسټيز توپير دا دی چې دغې ډلې ته د راګډېدو بهير په ټوله مانا له هر راز زور وفشار، تمې تطميع، کورني، ټبرني، ژبني او نژادي تړاو او تېر ابستنې پاک وسپېڅلی دی او د دې دومره غځېدنی، په بله وينا، د جلب وجذب يوازنی پول يې هم تر پرونه همدا خپرنی اورګان «آينده» وو چې متې په همدې وروستيو کې ورسره انټرنېټي وسيله هم ملګرې شوه.

«آينده» چې له خپل مخکښ غورځنګ سره نه شلېدونکی پيوستون لري او تر ننه پورې يې تر بلې هرې لیارې رودی همدغه د موخې او مرام - تګلارې او کړنلارې يوه پرېکنده ويانده ژبه پاتې شوې، او له دې سره سره په هېوادنۍ او ان سيمه ييزه کچه د يوه يوازېني رښتيني «مارکسېستي - هومانېستي» ښوونځي ښکارندويي او استازندويي کوي، نېکمرغه شپږمه

**کالیزه یې د ښکلو او په زړه پورې لیکنو او څېړنو په وړاندېینې سره نمانځي او په همدې پلمه یې موږ خپرندوي پاژوال پر خپل وار، سر لاري ملګري دوکتور نایبي او نورو ټولو مشرانو او کشرانو همسنګرو ته په نړه ملګرانه مینه او لورېینه مرغه ښه وایو!**

**وړاندې د یوه ټولمنلي سراسري افغاني پرګنیز ګوند د رغاونې پر لور!**

www.ayenda.org